# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Ideological | مسایل ایدیولوژیک |
| --- | --- |



درویش وردک


۱۴ مارچ ۲۰۱۶

## نولسم مجلس(له خدایه ویره)

دسی شنبی په ماښام د۵۴۵ هجری قمری کال ذی القعدی په اته لسمه شیخ عبدالقادرگیلانی (قدس سره) په مدرسه کی داسي وفرمایل:

ښایسته ده چی یوازی دخدای تبارک وتعالی پروړاندی خوف اورجاولرو، حتی که بهشت اودوزخ یی هم نه وی پیداکړی. خدای پاک یوازی دده دلقاء په خاطر اطاعت کړی، نه دعطا اوبخشش لپاره، دخدای اطاعت عبارت دی له: دهغی داوامرو ترسره کول، له هغه څه نه یی چی نهی کړی لیری والی، اوصبردده پرمقدراتواوغوښتنو.

دده خواته راوګرزی، اوپروړاندی یی په متواضعانه توګه په زاریو اوژړا لاسونه په دعا پورته کړی. ژړا یونوع عبادت اودخدای پروړاندی دذلت اوخواری اظهارول دی. هرکله که دتوبی پرمحال له دنیا ولاړی، متعال خدای به دمظلومینوپه شان درته پاداش درکړی. دحق رحمت اوعنایت دده دفرمانبردارانو پروړاندی ډیرژرظاهریږی.

په دنیا اوآخرت کی دخدای دوستی پرتالازمه ده، دخدای حب پرهربل څه غوره کړه. ځکه یوازی دخدای دحب ګټه اوتاوان درته رسیږی. ټول خلک له تاسره دخپلو ګټوپه خاطر مینه کوی، یوازی خدای دی چی ستالپاره پرتاعنایت کوی.

(ای قومه) ستاسو نفسونه دخدای دحب ادعا کوی، اوتاسو بی خبره یاست چی نفس له خدایه مزد غواړی، اوهغه څه چی خدای اراده فرمایلی، بل څه غواړی، شیطان پری ګران دی، پداسی حال کی چی دی دحق له دره شړل شوی. هرکله که مقدرات ورباندی نازل شی نودهغی پروړاندی صبراوبردباری نلری، بلکه دمعارضی اوجګړی په حال کی اوسی. هوکی- دنفس دهوا سره تسلیم اورضا شتون نلری. یوازی په اسم سره په اسلام بسنه کوی، پداسی حال کی چی داادعا هیڅ ګټه ورته نه رسوی.

(ای دخدای بنده) دخدای ویره به زړه ځای ورکړه، اوډاډه مه اوسه، ترڅوچی یی پروړاندی نه یی واصل شوی، اودزړه په استواره ګام سره ورته حاضرشی. هرکله چی یی الهی فرمان په لاس درکړ، نوهغه وخت ښایی چی امنیت اوهوساینه ترلاسه کړی.

هرکله که دحق دعنایت په پایله کی درته امنیت حاصل شو، په هغی پسی به دنیوی اواخروی فراوانه خیرترلاسه کړی. کله که امنیت ته ورسیدی پرهغی ټینګ ودریږه، ځکه هرکله چی متعال خدای یوشی بنده ته ورکړی بیا یی نه تری اخلی، پرته له هغی نه چی دنعمت شکرپرځای نشی.

حق سبحانه، هرکله چی یوه بنده غوره کړی، دی خپل ځان ته نیږدی کوی، اوکله چی دکبریایی جلال ویره یی په زړه کی خپره شوه، دجمال انوارځلابه دده له زړه څخه خوف لیری کړی، ترڅویی زړه اوباطن دحق دقرب سره انس واخلی، اوداهغه سِر دبنده اوخدای داسرارو څخه.

وای پرتا! ستاپه ګوله کی دشیشی ټوټی پرتی دی اوته ترناخبره یی، دحرص اوآرزواوشهوت دځواک له می هغه خوری اوورسته له یوه ساعته متوجه کیږی چی معده دی ټیری.

ټولی بلاوی له خالق څخه په لیری والی کی، اوپرمخلوق په تکیه کولو کی دی. که وګړای شی خلق په خپل مقام کی وآزمایی نودهغوی باطن ته به دی پام واوړی. اوبیا به پرته له خدایه په بل کس تکیه ونکړی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی:( اُخْبُرَّ تَقْلَّهُ)-«وآزمایه، نوبیابه دنورو په حب اوبغض پوه شی».

ته پرته له آزماینی مینه کوی، اودبنمنی کوی، پداسی حال کی چی باید وآزمایی، اوعقل ددی آزماینی وسیله وګرزوی، ولی متاسفانه ته له عقله محرومه یی، زړه باید دپیژندګلوی وسیله وګرزی، ولی ته دسالم اوروغ زړه خاوند نه یی. زړه دی چی سوچ کوی اوپند اخلی. متعال خدای فرمایی: (اِنَّ فِی ذَآلِکَ لَذِکْرَی لِمَنْ کَانَ لَهُ قَلْبٌ اَوْاَلْقَی السَّمْعَ وَهُوَشَهِیْدٌ)-« هماغه ورته پنددی دچاپاره چی هوښیارزړه لری، او هغی ته دزړه غوږ ونیسی اوشاهد وی. سوره ق. آیه ۳۷».

عقل(کلی عقل) زړه ته بدلون ورکوی، اوزړه باطن متحول کوی، اوباطن دحق فناته رسیږی. اوفنا ده چی ریښتینی هستی ته رسیږی. آدم علیه السّلام اونورانبیاء هم دنفس اوانسانی غرایزو درلودونکی و، ولی دوی دنفس دغوښتنو پروړاندی مبارزه کړی اودحق رضا یی دنفس پر رضا غوره ګڼلی ده، آدم په جنت کی دتیروتنی سره مخ شو او نافرمانی تری ووته، ولی توبه یی وکړه اونور هغی ته ورستون نشو. دده توبه ددی سبب وګرزیده چی دحق ترڅنګ دبل څه په هکله فکر ونکړی، انبیاء علیهم السلام تل دنفس اوشهواتوسره به مبارزه کی و، ترڅوچی دمجاهدت دکثرت اودخدای داوامرودترسره کولو په لاره کی درنځ دزغملو اونفس اوهواسره په جګړه، په حقیقت کی دفرشتومقام ته رسیږی. انبیاء اوپیغمبران اواولیاء عموما دصبر اهل و، تاسو هم په دوی ایمان راوړی اودصبر په مقام کی له دوی پیروی وکړی.

(ای دخدای بنده) دخپل درونی دبنمن پرګوزار صابره اوسه، دصبر په پایله کی به دغه خطرناکه دبنمن مړکړی. اوله ده به غنیمت یوسی اودخدای له جانبه به په خپل نفس په فرمانروایی مفتخرشی.

(ای دخدای بنده) زیاروباسه ترڅوچاته آزار ونه رسوی، دټولو خلکو پروړاندی نیک نیت ولره، پرته له هغی چی دشرعی په امرسره مجازات شی، پداسی حال کی ستاآزار دده پروړاندی په حکم کی عبادت دی.

هوښیارانو اوبزرګانو په خپلو ځانوکی دقیامت شپیلی(صور) وهلی، اوخپل رستاخیزیی په دی نړی کی ولاړکړی، اوپه میزانه سره له دنیا مخ اړولی دی، اوپه صدق اوصفا له پل صراطه تیرشوی، په روښانه زړونو یی سیرکړی اودجنت دروازی ته ولاړ اووایی: مونږیی په یوازیتوب نه خورو اونه څښو، ځکه بزرګانو اوکریمانو دنیوی نعمتونه په خپله ولکه کی ندی نیولی اوپه یوازیتوب یی له هغی ګټه نده پورته کړی، پس راګرزی اومخلوق دخدای لاری اواطاعت اوفرمانبرداری ته رابولی. اودوی له اخروی نعمتونو خبروی، ترڅو دخدای دامر وړل ورته آسانه شی، اومتفقاً دالهی نعمتونو خواته سیرکوی.

هرڅوک چی دکامل ایمان خاوند وی، اودیقین نوریی په زړه کی ځای وی، هغه څه چی خدای عزّ وجلّ دقیامت له چاروخبر ورکړی، دباطن په سترګو وینی. بهشت اودوزخ، موکلی فرشتی، اوپه هغی کی ټول شیان وینی. همدارنګه دنیا وینی، اودهغی زوال اونابودی اوتغییرات یی هم ګوری. هرکله که په قبرتیرشی، هغه څه چی دعذاب اویانعیم څخه وی دباطن په سترګو وینی. قیامت وینی، دهغی ځای له رد اویا قبول څخه خبر وی، دخدای رحمت اوعذاب دواړه وینی.

فرشتی، انبیاء اومرسلین، ابدال اواولیاء ددوی په مراتبو اومنازلو کی وینی. دجنت اودوزخ اهل په بیلابیلو حالاتوکی وینی.

هرڅوک چی دنظرخاوند شو، په ظاهری سترګو خلک وینی، اوپه باطنی سترګو دخدای افعال ګوری، چی دمخلوق په هکله ترسره کیږی. دزړونو له آرامش اوسکون څخه خبریږی، ددی اصل پربنسټ دی چی اولیاء کرام په ظاهری سترګو شخص وینی، اودزړه په سترګو دده اسراروینی، اودباطن په سترګو دحق دجلال عظمت ګوری.

هرکله که خدای بنده وآزمایی، ورته رنځ رسوی، اوبنده په هرحالت کی، په دریاب اوپه وچه کی په دښته اوپه غره کی، په تلخی اوشیرنی کی، په عزت اوپه ذلت کی، په بډایی اودرویشی کی، په سلامت اوبیماری کی، درضا په سترګوګوری، اوالهی قضا اوقدرپروړاندی راضی اوشاکره وی، رنځ اوتعب تری لیری کیږی، اوهغه رنځ په حقیقت کی دمتواضع خدمتګارپه څیرورته راځی، اوداټول مواهب دنفس اودطبع له شهواتو سره دمخالفت، اوله نابابه خلکولیری والی اوله بدواوناوړه کړو څخه ډډه کولو کی ممکن دی.

**لویه خدایه ، دمقدراتوپروړاندی مونږته رضایت اوموافقت نصیب وګرزوه. آمین!**

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار».**